هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۲۹۴) ماه شعبان المعظم ۱۴۴۶ هـ ق. مطابق ماه دلو ۱۴۰۳ هـ ش.

**ښه ادب او نیک اخلاق د ښـې روزنې څخه سرچینه اخلي.**

## د سرچینو او اداري معین هرات ته سفر وکړ

د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري د معین الحاج مولوي صبغت الله وصیل په مشرۍ یو پلاوی هرات ولایت ته سفر وکړ.

په دې سفر کې یاد پلاوي د هرات ولایت له پوهنې رئیس مولوي رحمت الله جابر او کلیدي مسئولینو سره په کتنه کې د یاد ولایت د پوهنیز وضعیت په اړه تفصیلي خبرې وکړې.

دغه راز د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري معین وویل چې یاد ولایت ته یې د سفر موخه د ښوونیز وضعیت څېړل او د هرات د پوهنې ریاست د املاکو د ستونزو هوارول دي.

له بلې خوا د هرات پوهنې رئیس دغه ولایت ته د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري د معین له سفر هرکلی وکړ او یاد سفر یې ارزښتناک او ګټور وباله.

## راه اندازی کمپاین حفاظت از کتب درسی در ولایت سرپل

کمپاینی زیر نام "پوش و محافظت از کتاب" به هدف ارتقای فرهنگ حفظ و مراقبت از کتب درسی و تشویق شاگردان به استفاده مسئولانه از منابع آموزشی در لیسه باقرالعلوم از مربوطات ولسوالی بلخاب ولایت سرپل برگزار گردید که با استقبال گرم شاگردان، معلمان و کادر های آموزشی همراه بوده و نتایج قابل توجهی به همراه داشته است.



مسئولین معارف آن را گامی مهم برای ترویج فرهنگ آموزش و حفاظت از منابع آموزشی دانسته و این چنین اقدامات را به‌عنوان نشانه‌ای از تلاش و تعهد رهبری و استادان مکاتب به رشد علمی و اخلاقی شاگردان یادآوری کرد.

## په لرې پرتو سیمو کې د کارکوونکو د معاشونو په ورکړه کې آسانتیاوې رامنځته شوې



پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا، د هېواد د ۶ ولایتونو د ولسوالیو او لیرې پرتو سیمو پوهنې وزارت کارکوونکو ته د معاشونو ورکړې لپاره د ارینو آسانتیاوو په برابرولو کې د اسلامي بانک له مسئولینو سره په خپل کاري دفتر کې وکتل...

۲ مخ

## په دایکنډي کې یو باب مدرسې او ښوونځي ته ۸۰ جریبه ځمکه وقف شوه

د زمان سروري په نوم د دایکنډي ولایت مرکز نیلي ښار ارونډ هجدي سیمې یو تن اوسېدونکي خپله ۸۰ جریبه ځمکه، د یو باب مدرسې او ښوونځي جوړولو لپاره، چې په پام کې ده د جبرائیل عمر په نوم ونومول شي، وقف کړه.

د ځمکې د ورکړې په مراسمو کې د دایکنډي ولایت د پوهنې رئیس مولوي رحمت الله قندیلي، علماء کرامو او قومي مشرانو حضور درلود.

په پیل کې د دایکنډي پوهنې رئیس د هېواد بچیانو ته د متوازنو ښوونیزو او روزنیزو خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې د پوهنې وزارت موخې بیان کړې او د همدغو اهدافو ته د رسېدلو لپاره یې د عامو خلکو مادي او معنوي مرستې مهمې او ارینې وبللې.

نورو ویناوالو هم د خپلو خبرو پرمهال، د ټولنې په اصلاح او پرمختګ کې د علم او پوهې په اغېزناک رول خبرې وکړې او له پوهنې سره مرسته یې صدقه جاریه نېک عمل وباله.

د پوهنې وزارت مشرتابه د عامو خلکو له مرستو، په ځانګړې توګه د دایکنډي ولایت علم پرور شخصیت زمان سروري د ملاتړ له امله مننه کوي.

## آغاز کار ساخت یک باب مدرسه دینی در ولایت فراه

کار ساخت یک باب مدرسه بنام ابوالخیرعبدالحی در مربوطات ولسوالی انار دره ولایت فراه که قرار است به مساحت ۶۰۰ متر مربع زمین به هزینه مجموعی یک میلیون و ۲۰۰ هزار افغانی از سوی خانواده ابوالخیر عبدالحی ساخته شود؛ با حضور مسئولین معارف، علماء کرام و باشنده گان آن ولسوالی افتتاح گردید.

به گفته مسئولین معارف آن ولایت، در نظر است این مدرسه در ۴ طبقه



ساخته شود که دارای ۲۸ صنف درسی بوده. مسئولین معارف میافزاید با ساخت این مدرسه برای بیش از ۱۰۰۰ تن طالب‌العلم در دو وخت سهولت هایی فراگیری آموزش های دینی و عصری فراهم میگردد.

در این حال شماری از باشنده‌گان محل از آغاز کار ساخت این مدرسه اظهار خورسندی نموده و از سایر هموطنان خواست تا در تقویت نظام آموزشی از هیچ گونه سعی و تلاش دریغ نورزند.

## د ۳۴ ولایتونو تدارکاتي مدیرانو کاري وړتیاوو لوړولو په موخه ورکشاپ په لار واچول شو

د پوهنې وزارت تشکیلاتو ریاست اړونده د وړتیا لوړولو آمریت له لورې، د کابل ښار په شمول د هېواد د ۳۴ ولایتونو د پوهنې ریاستونو تدارکاتي مدیرانو کاري وړتیاوو لوړولو په موخه روزنیز ورکشاپ، دملي تدارکاتو ریاست د مرستیال شیخ عبدالرحیم رحیمي، اداري لوی رئیس مفتي شفیع الله منصور او یو شمېر نورو مسئولینو په حضور کې پرانیستل شو.

د پوهنې وزارت مسئولینو په خپلو خبرو کې د چارو کیفیت لوړولو په برخه کې د ښوونیزو ورکشاپونو پر اغېز د خبرو ترڅنګ، د تدارکاتي لارښوونو، قوانینو



پر پلي کولو او د بیت المال پر ساتنې ټینګار وکړ او ارونده مدیران یې خپلو اساسي مسئولیتونو ته متوجې کړل.

## بازسازی ده ها مدرسه و مکتب به هزینه بیش از ۱۰،۶ میلیون افغانی در ولایت میدان وردگ

مسئولین در ریاست معارف ولایت میدان وردگ میگویند که در سال جاری ۱۰ میلیون و ۶۳۹ هزار و ۲۹۳ افغانی از بودجه عادی خویش را صرف ترمیمات و بازسازی نهادهای تعلیمی در آن ولایت نموده است.

این بازسازی ها ضمن ترمیمات داخلی ساختمان ریاست معارف، مشمول ۲۴ باب مکتب در سرتاسر



آن ولایت نیز می گردد که هریک به گونه اساسی ترمیم و به بهره برداری مجدد سپرده شده اند.

به گفته مسئولین معارف ولایت میدان وردگ با انجام این ترمیمات بخش اعظم از مشکلات شاگردان نهادهای تعلیمی در آن ولایت حل گردیده است.

### در این شماره

ویژگی های یک معلم موفق — صفحه ۲

زده کوونکی باید له خپل وخت څخه څه ډول ګټه واخلي؟ — ۲ مخ

د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري معین د هلمند ولایت له والي سره وکتل — ۳ مخ

هیئت ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف عازم ولایت ارزگان شد — صفحه ۳

افتتاح ورکشاپ مسلکی برای مسئولین و اعضای انکشاف مسلکی در ولایات زون غرب کشور — صفحه ٤

سرلیکنه

## ماشومان باید مدرسو او ښوونځیو ته د تګ لپاره ذهناً چمتو شي

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ اْلعَالَمِیْنَ والصلوةُ وَالسَّلاَمُ عَلَی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ وَ عَلَی اٰلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِینَ.

د نوي ښوونيز کال په پيلېدو سره هغه ماشومان، چې عمرونه يې مدرسو او ښوونځيو ته د شموليت لپاره پوره کړي وي، والدينو ته يې په کار ده ترڅو هغوی له ذهني اړخه مدرسو او ښوونځيو ته د تګ لپاره چمتو کړي، تر څو هغوی په پوره لېوالتيا سره مدرسو او ښوونځيو ته ولاړ شي او خپلې زده کړې پيل کړي. ډېر ماشومان کله، چې نوې مدرسه او ښوونځی پيلوي له ګڼ شمېر ستونزو سره مخ کېږي. لکه: ناقراري، ناراحتي، له ښوونځي ويره او ډېر کله داسې هم پېښېږي، چې له مدرسې او ښوونځي زړه توري شي، خو هره ستونزه يې په خپل وار سره د حل لار لري. دغه ستونزه په هغه ماشومانو کې وي، چې تر ډېره د خپلې کورنۍ په وګړو پورې تړلي وي.


د بېلګې په توګه هغه مور او پلار، چې په خپلو کورونو کې د اولادونو حمايت کوي او همدا ملاتړ د دې لامل ګرځي، چې ماشوم په خپل مور او پلار پورې تړلي پاتې شي، چې بيا په نوي چاپېريال کې د ډار احساس کوي او ځان يوازې احساسوي او داسې فکر کوي، چې ګواکې دلته يې د ساتنې څوک نشته. دا ستونزه په ډېرو ماشومانو کې ليدل کېږي چې تل کورنۍ ورسره مخ وي حتې تر دې چې ماشومان يې د مدرسې او ښوونځي عمر تر ټاکلي مودې وروسته هم دېته نه حاضرېږي چې مدرسې او ښوونځي ته لاړ شي حتی ځينې ماشومان د تل لپاره مدرسې او ښوونځي ته له تګ څخه محروم پاتې شي. نو لازمه ده چې قدرمن والدين د مناسبو لارو چارو کار واخلي تر څو ماشوم ښوونځي ته د تګ لپاره لېواله شي. والدين بايد د ښوونيز کال له پيل مخکې د ماشوم ذهن د مدرسې، ښوونځي او استاذ پېژندلو ته پوره چمتو کړي. د ماشوم په ذهن کې مدرسې او ښوونځي ته د تللو شور او شوق پيدا کړي، هغه ته ډاډ ورکړي، چې ښوونکی يو مهربان شخص دی او له ده څخه پوره ساتنه کوي. همدارنګه والدين بايد هڅه وکړي له داسې لارو چارو څخه ګټه واخلي لکه: (ماشوم له ځان سره جومات، خپلوانو او پارک ته بيول او د ورځې په اوږدو کې له خپلو همزولو ماشومانو سره يې لوبو ته پرېښودل ) چې په دې ډول سره کولای شو په تدريجي توګه له خپل ماشوم سره وابستګي کمه کړي.

والدينو ته لازمه ده تر څو هڅه وکړي، مخکې له دې، چې ښوونيز کال پيل شي له ماشوم سره د هغه څه په اړه خبرې وکړي، چې کېدای شي ماشوم يې د مدرسې او ښوونځي په لومړي ټولګي کې ولولي لکه: لوستل، ليکل، حساب کول، انځورګري، سپورت او داسې نور. په دې ډول سره به ماشوم په پوره شوق سره دې ته په تمه وي، چې څه وخت به مدرسې او ښوونځي ته ځي. ډېر ماشومان سهار وختي د خوبه پاڅېدو کې له ستونزو سره مخ وي بايد هڅه وشي مخکې له دې چې مدرسه او ښوونځی پيل شي او ماشوم پکې نوم ليکنه وکړي يوه مياشت مخې بايد ماشومان داسې عادت کړي، چې د شپې لخوا يو ساعت مخکې ويده شي او سهار وختي له خوبه پاڅي. ماشومان بايد په ماشومتوب کې سهار وخته له خوبه په پاڅېدو او د سهار لمانځه وروسته د قران کريم په تلاوت عادت کړو. همدارنګه مدرسې او ښوونځي ته د تګ لپاره مو خپل ماشومانو ته چې نصحت کوي او يا ور سره خبرې کوی په داسې لهجه ورسره خبرې وکړئ، چې ما شوم مو ذهناً مدرسې او ښوونځي ته د تلو لپاره تيار شي. دغه راز کولای شئ له هغو ماشومانو سره راشه درشه وکړئ، چې په لومړي کال کې مدرسې او ښوونځي ته په تلو کې بريالي کسان وو او د خپلو ماشومانو لپاره يې الګو وګرځوئ تر څو ماشوم نور هم وهڅېږي او مدرسې او ښوونځي ته له تلو سره مينه پيداکړي او د امکان په صورت کې مخکې له دې، چې مدرسې او ښوونځي پيل شي او ماشوم مو پکې نوم ليکنه وکړي ماشومان مو مدرسو او ښوونځيو ته بوزی تر څو د مدرسې ښوونځي له نوي چاپېريال سره اشنا شي. د مدرسې او ښوونځي په لومړۍ ورځ له ماشوم سره د والدينو تلل ښوونځي ته له ماشوم سره پوره مرسته کوي او تر ډېره دغه چاره کولای شي د ماشوم هغه ډار، چې په زړه کې يې لري له منځه ولاړ شي. والدين بايد هڅه وکړي مخکې له دې چې د مدرسې او ښوونځي درسونه پيل شي ماشوم يې له يوه ټولګيوال سره آشنا کړي، تر څو ډاډه شي، چې په مدرسه او ښوونځي کې هم ملګری او دوست لري.

قدرمنو والدينو! د نن ورځې ماشومان چې د هېواد راتلونکې په دوی پورې اړه لري په ښه او سالمه ښوونه او روزنه کې يې ټول مسئوليت لرو که چېرې مورږ او تاسو نن د دوی ښه پالنه وکړو په راتلونکي کې به د هېواد او هېوادوالو د ښه خدمت جوګه شي. د پوهنې وزارت د ماشومانو په اسلامي روحيه روزنه کې ځان ژمن بولي او د شته امکاناتو په درلودلو سره هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې زده کوونکو ته د ښه او مناسب زده کړييز چاپېريال په رامنځ ته کولو کې له هېڅ راز هڅو دريغ نه کوي تر څو د هېواد بچيانو ته د زده کړې خوندي چاپېريال را منځ ته کړي.

## ویژه‌گی های یک معلم موفق

یک معلم خوب و موفق باید ویژگی های مختلفی تدریس داشته باشد تا بتواند تأثیر مثبت بر شاگردان بگذارد. برخی از ویژگی‌های کلیدی یک معلم خوب عبارتند از:



**صبر و شکیبایی** : معلم خوب باید بتواند با صبر به سوالات و مشکلات شاگردان پاسخ دهد و فرصت یادگیری را برای همه فراهم کند.

**شوق به تدریس:** علاقه و اشتیاق به آموزش و تدریس باعث می شود که معلم بتواند محتوای درسی را به طور جذاب و شایسته‌ای به شاگردان منتقل کند.

**مهارت‌های ارتباطی:** معلم باید توانایی برقراری ارتباط مؤثر با شاگردان داشته باشد و از این طریق بتواند درک درستی از نیازها و مشکلات آن‌ها پیدا کند و در حل مشکلات شاگردان تلاش کند.

**قدرت انگیزش** : معلم خوب باید بتواند شاگردان را به یادگیری علاقه مند کند و انگیزه‌ای برای پیشرفت و یاد گیری در آنها ایجاد نماید.

**توانایی سازگاری:** معلم باید توانایی تطبیق روش‌های تدریس خود با نیازها و ویژگی‌های مختلف شاگردان را داشته باشد.

**رویکرد مثبت و حمایتگر:** حمایت و تشویق از شاگردان، خصوصاً در مواقعی که آن‌ها با مشکلات مواجه می‌شوند، کمک می‌کند تا اعتماد به نفس آن‌ها افزایش دهد.

**عدالت و انصاف:** معلم باید در ارزیابی‌ها و رفتارهای خود با همه شاگردان به صورت عادلانه برخورد کند. این ویژگی‌ها کمک می‌کند تا یک معلم بتواند تجربه‌ی یادگیری مثبت و مؤثری برای شاگردان فراهم کند.

**مهارت‌های حل مسئله:** معلم خوب باید بتواند به سرعت مسائل و مشکلات مربوط به صنف درسی را شناسایی کند و راه حل‌های مؤثری برای رفع آن‌ها پیدا کند. این مهارت هم در مدیریت صنف و هم در کمک به شاگردان برای حل مشکلات فردی آن‌ها مفید است.

**ابتکار:** معلمان مبتکر می توانند روش‌های نوآورانه برای تدریس پیدا کنند و محیطی جذاب و انگیزشی برای شاگردان فراهم کنند. این ویژگی به تدریس کمک می‌کند تا از تکرار و کسالت جلوگیری شود.

**آگاهی از روش‌های مختلف یادگیری:** هر شاگرد روش‌های مختلفی برای یادگیری دارد، و معلم خوب باید با این تفاوت‌ها آشنا باشد و بتواند روش‌های متنوعی را برای تدریس به کار گیرد.

**روحیه همکاری و تیمی:** معلم خوب باید قادر به کار کردن با همکاران، والدین و دیگر اعضای تیم آموزشی باشد تا بهترین نتایج را برای شاگردان به دست آورد.

**انعطاف‌پذیری در تدریس:** در شرایط مختلف، معلم باید توانایی تغییر روش‌های تدریس خود را داشته باشد تا به نیازهای شاگردان پاسخ دهد.

**قدرت شنیدن:** یک معلم خوب باید توانایی شنیدن سوالات شاگردان و درک نیازها و نگرانی‌های آن‌ها را داشته باشد. گوش دادن به خواست های شاگردان نه تنها به برقراری ارتباط بهتر کمک می‌کند، بلکه احساس ارزشمندی و احترام را نیز در آن‌ها ایجاد می‌کند.

**توانایی ارزیابی:** معلم باید توانایی ارزیابی شاگردان به شیوه‌ای منصفانه و سازنده را داشته باشد.

**الگو بودن:** معلمان باید الگوی خوبی برای شاگردان باشند. رفتار معلم، احترام به دیگران، تعهد به آموزش، و رعایت اصول اخلاقی می تواند تأثیر زیادی بر نگرش شاگردان نسبت به آموزش و زندگی داشته باشد.

**توانایی مدیریت زمان:** معلم باید توانایی مدیریت زمان را داشته باشد تا تمامی فعالیت‌ها و تدریس‌ها به طور مؤثر و در زمان مناسب انجام شوند. این ویژگی به شاگردان کمک می‌کند که تمرکز داشته باشند و از زمان خود به بهترین شکل استفاده کنند.

با داشتن این ویژگی‌ها، معلم می‌تواند محیطی آموزشی و مثبت برای یادگیری فراهم کند که باعث رشد و توسعه همه جانبه شاگردان می‌شود.

## زده کوونکی باید له خپل وخت څخه څه ډول ګټه واخلي؟

زده کوونکی کولی شي د خپل وخت څخه په ښه توګه ګټه واخلي که چېرې څو مهمو ټکو ته پام وکړي:

**د وخت مدیریت او پلان جوړونه:**

يوازې د ښوونځي يا پوهنتون لپاره نه، بلکې په ټولو برخو کې د وخت مديريت ډېر اړين دی. زده کوونکي بايد پوه شي چې څنګه خپل وخت په سمه توګه تقسيم کړي. د ورځنيو فعاليتونو لپاره يو ساده پلان جوړول، لکه چې څه وخت درس لوستل، کوم وخت ورزش يا تفريح کول، او کوم وخت د کورنيو چارو لپاره ځانګړی کړي، کولی شي د زده کړې په برخه کې مهمې پايلې ولري

**د لومړيتوبونو ټاکل :**

د زده کړې د موادو ترتيب او هغو ته لومړيتوب ورکول مهم دي. زده کوونکي بايد پوه شي چې کوم درسونه يا موضوعات تر نورو مهم دي.

**د ټکنالوژۍ څخه په مثبته توګه ګټه اخیستنه**

نن سبا ټکنالوژي زده کړه آسانه کړې ده، مګر که له ټکنالوژۍ څخه مثبته ګټه پورته نشي د زده کوونکو ډېر وخت ضايع کوي او د زده کړو بهير يې ټکنی کوي. د مثال په توګه، سوشل ميډيا يا بې ځايه ويب پاڼې کولی شي د زده کوونکو وخت ضايع کړي.

په دې توګه، د ټکنالوژۍ څخه بايد د زده کړې په موخه ګټه واخيستل شي. لکه د زده کړې آنلاين کورسونه، يا ښوونيزې ويډيوګانې ليدل.

**استراحت او ذهنی روغتیا**

د زده کړې او مطالعې لپاره بايد په ذهن باندې زيات فشار را نه وستل شي. د زده کړې او مطالعې لپاره بايد داسې مهال ويش جوړ شي چې د څو دقيقو لپاره د راحتې فعاليتونو لکه تمرين، تفريح يا د طبيعت د ښکلاوو څخه خوند اخيستلو سره ځان آرام کړي. د وخت مديريت يوه بله مهمه موضوع ده چې په دې کې د ۲۵ دقيقو مطالعې وروسته پنځه دقيقې استراحت کيږي. د دې سره، ذهن تازه پاتې کيږي او زده کړه اغيزمنه کېږي. همدارنګه، کافي خوب کول هم مهم دي. کله چې انسان سم خوب کوي، هغه ښه تمرکز او زده کړه کوي.

**په ګډه زده کړه او همکاري**

کله چې زده کوونکي د خپلو ټولګيوالو سره يوځای زده کړه کوي، د علم تبادله زياتوي. بحثونه او د ګروپونو په څير فعاليتونه کولی شي نوي نظريات او مفاهيم رامنځته کړي.

که چيرې يو زده کوونکی په يوه ستونزمنه موضوع کې له خپل ټولګيوال سره مرسته وکړي، نو نه يوازې ځان ته بلکې نورو ته هم ګټه رسوي.

**مثبت فکر کول**

کله چې زده کوونکي له ځان سره قناعت وکړي چې هغوی ښه کار کوي او وخت ښه مديريت کوي، هغوی ډيرې هڅې کوي او د مثبتې نتيجې توقع لري. د خپلو هڅو او پرمختګونو په اړه د ورو جايزو ورکول د زده کړې په بهير کې ډېر مثبت تاثير لري.

په عمومي ډول، زده کوونکي بايد د خپل وخت ښه مديريت کولو ته پام وکړي ترڅو د خپلو زده کړو د کيفيت لوړولو کې ښې لاسته راوړنې ولري. که د دې ټکو په پام کې نيولو سره کار وکړې، نو له خپل وخت څخه به په مؤثره توګه ګټه واخلي.

**په ځينو ليرې پرتو ...**

په پيل کې د پوهنې وزارت سرپرست د اسلامي بانک پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ، د ياد بانک د چارواکو له دغه نېک اقدام څخه خوښي څرګنده او ويې ويل: "زمونږ هېواد د پخوا په پرتله ډېر کار ته اړتيا لري، دا د هر افغان دنده او وجيبه ده، چې خپلو هېوادوالو ته د دوی د رسمي مسئوليتونو سره سم باکيفيته خدمتونه وړاندې کړي.

همدارنګه د پوهنې وزارت سرپرست څرګنده کړه، اوس د دې وخت را رسېدلی دی، چې د خپل ملت سره هر اړخيزې مرستې وکړو، ځکه چې ملت زمونږ او مونږ د ملت يو.

دغه راز د ياد وزارت د مالي او حسابداري رياست په هڅو او همغږۍ او د اسلامي بانک په همکارۍ سره به د ميدان وردګ، غزني، نيمروز، کندز، غور او هرات ولايتونو د ولسواليو په ليرې پرتو سيمو کې تدريسي او اداري منسوبينو ته په وخت سره د معاشونو ورکړه او په ياده بهير کې د روڼتيا او د هر ډول مالي بې نظميو څخه د مخنيوي په موخه، د پوهنې کارکوونکو ته به ځانګړي کارتونه ورکړل شي، تر څو هغوی وکولی شي په خپلو سيمو کې معاشونه د اسلامي بانک د ګرځنده ټيمونو له لوري ترلاسه کړي.

## لنډخبرونه

### ننگرهار

پروژه اعمار دیوار احاطوی دارالعلوم الاسلامیه حنفیه در مربوطات ولسوالی کوت ولایت ننگرهار به طول ۳۲۰ متر و هزینه ۷۲ هزار و ۳۰۰ افغانی از بودیجه معارف آغاز گردید.
هم چنان در یک خبر دیگر از مسئولین معارف ولسوالی خوگیانی آن ولایت آمده است که به مساحت ۳ جریب زمین برای اعمار تعمیر متوسطه باغیچه از سوی مردم آن ولسوالی وقف گردیده است.

### سرپل

د سرپل ولایت مرکز اړوند معرفت لومړني ښوونځي احاطوي دېوال د عامو خلکو له لوري د ۱۵۰ زره افغانیو په لګښت جوړ او د پوهنې مسئولینو، مشرانو او ښوونکو په ګډون د یوې غونډې په ترڅ کې پرانیستل شو.

### باميان

د باميان والي مولوي عبدالله سرحدي او پوهنې رئیس قاري عنايت الله سهار لخوا د دولسمو ټولګیو اړوندو ښوونکو د تعلیمي کچې لا ښه والي لپاره ژمنی ورکشاپ پیل شو.
یادو ښوونکو دغه ډول پروګرامونه د خپلې مسلکي پوهې لوړولو په برخه کې یو مثبت ګام وباله، او ژمنه یې وکړه چې د دې ورکشاپ له سرچینو څخه به د خپلو مسلکي مهارتونو د بډاینې لپاره اعظمي ګټه پورته کړي.

### پروان

د پروان ولایت غوربند ولسوالۍ ۶۹ تنو مدیرانو او سرښوونکو ته «د اغېزمنې زده کړې او ترویج د ودې» تر سرلیک لاندې ۵ ورځنی ورکشاپ جوړ شو.

### بلخ

د بلخ ولایت د ښوونځیو ۲۱۳ تنو مدیرانو او سرښوونکو ته «د مسلکي وړتیاوو پراختیا» تر سرلیک لاندې سیمینار جوړ شو.
د یاد ولایت پوهنې رئیس مفتي محمد شریف عثماني دغه سیمینار ګټور وباله او له ګډون والو یې وغوښتل، چې د خپلو زده کړو مهارتونو څخه د هېواد بچیانو د ښوونې او روزنې کچې لوړولو په برخه کې ګټه پورته کړي.

### پکتيکا

جهت ایجاد سهولت ها و پیشرفت بهتر امور برای کارمندان هسته مرکزی و ولسوالی های ولایت پکتیکا به هزینه کلی یک میلیون و ۱۴۰ هزار افغانی سیستم برق آفتابی ساخته خواهد شد.

### کندز

په کندز ولایت کې د مدارسو او دارالحفاظونو ۲۸۰ تنو مسئولینو ته "د مدارسو د مسئولینو وړتیا لوړولو" تر سرلیک لاندې ۲ ورځنی روزنیز سیمینار جوړ شو.

### بلخ

د بلخ ولایت مرکز مزارشریف ښار د ۴۰ بابه مدارسو او دارالحفاظونو ۱۰۰ تنو حافظانو تر منځ د قرآن کریم د حسن قرائت سیالی، د یاد ولایت پوهنې ریاست له خوا په لاره واچول شوې چې په ترڅ کې یې ممتازو حافظانو ته جایزې ورکړل شوې.

### پکتيکا

د پکتیکا ولایت د اومنه او یوسف خېل ولسوالیو ۲۸تنو ښوونکو ته د درسي مېتودونو تر عنوان لاندې ۳ ورځنی سیمینار جوړ شو.
د یاد سیمینار برخه والو د روزنیزو فرصتونو د رامنځته کولو له امله د مننې ترڅنګ، ژمنه وکړه، چې له دغه سیمینار څخه به په تدریسي بهیر کې هراړخیزه ګټه پورته کړي.

## د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري معین د هلمند ولایت له والي سره وکتل

د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري معین الحاج مولوي صبغت الله «وصیل»، هلمند ولایت ته د خپل سفر په لړ کې، د یاد ولایت له والي الحاج مولوي عبدالرحمن «مسلم کندزي» سره وکتل.
په دغه کتنه کې د پوهنې رئیس الحاج مولوي محمد عوض انصاري او یو شمېر نور چارواکو هم ګډون درلود.
د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري معین پر یو شمېر مهمو موضوعاتو لکه؛ د تعلیمي وضعیت څرنګوالي، په مدارسو او ښوونځیو کې د درسي کیفیت پر لاښه والي، د تعلیمي سیمینارونو دایرولو او د تعلیمي پروسې ښې څارنې په هکله تفصیلي خبرې وکړې.
په ورته مهال، د هلمند والي د پوهنې وزارت پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ، د پوهنې لاپیاوړتیا په برخه کې له مشرتابه مننه وکړه او له هغوی سره یې د هلمند ولایتي اداري د رهبرۍ په استازیتوب د هراړخیزې همکارۍ ژمنه وکړه.

## په هرات کې د یو باب مدرسې د جوړېدو لپاره د یو نیم مېلیون افغانیو په ارزښت ځمکه وقف شوه

په هرات ولایت کې د حاجي نور احمد په نوم د یو تن علم دوست شخصیت لخوا د انجیل ولسوالۍ اړوند حضرت سلمان فارس مدرسې ته د یو مېلیون او ۵۰۰ زره افغانیو په ارزښت ځمکه وقف شوه.
د یادونې وړ ده، چې یاده ځمکه په داسې حال کې د هرات پوهنې ریاست ته ورکول کېږي، چې د ۱۴۰۳ ښوونیز کال له پیل راهیسې تر دې مهاله د عامو خلکو لخوا لسګونه جریبه ځمکه د ښوونیزو مرکزونو د جوړولو په موخه د یاد ولایت دپوهنې ریاست ته په واک کې ورکړل شوې ده.
د پوهنې وزارت د معارف په برخه کې د هېوادوالو په ځانګړې توګه د هرات ولایت د علم دوسته اوسېدونکو د مادي او معنوي مرستو او ملاتړ څخه مننه کوي.

## د باميان ولایت په مرکز کې یو باب مدرسې لپاره ۲ جریبه ځمکه وقف شوه

د باميان ولایت مرکز اړوند د سرخ کلي اوسېدونکو له لوري، د خاتم الانبیاء «علیهم السلام» مدرسې جوړولو لپاره ۲ جریبه ځمکه د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پوهنې ته وقف شوه.
دا په داسې حال کې ده، چې څه موده وړاندې د همدې ولایت په کهمرد ولسوالۍ کې ۲ جریبه ځمکه د یو تن معارف دوست شخص لخوا د ښوونځي جوړولو لپاره ورکړل شوې وه.
د پوهنې وزارت مشرتابه د هېوادوالو، په ځانګړې توګه د باميان ولایت د علم پروره ولس د مرستو څخه قدرداني کوي.

## د افغاني سرې میاشتې ټولنې لخوا په هرات کې د یو شمېر ښوونځیو لپاره روغتیايي آسانتیاوې برابرې شوې

د افغاني سرې میاشتې ټولنې د هرات ولایت په انجیل، شینډنډ او کرخ ولسوالیو کې د څه باندې ۷ میلیونه اوه سوه زره افغانیو په لګښت ۲۴ غرفې تشنابونه او ۴ حلقې سیپټیک څاګان جوړ کړل. د هرات ولایت پوهنې رئیس مولوي رحمت الله جابر وویل: "د یادو پروژو په پلي کولو سره، د پورته ذکر شویو ولسوالیو په ښوونځیو کې د زده کونکو ډېرې ستونزې، چې د اړینو ملحقاتو کمښت له امله وې، حل شوې دي."د پوهنې وزارت مشرتابه د هرات ولایت د پوهنې ریاست سره د افغاني سرې میاشتې ټولنې د مالي ملاتړ له امله مننه کوي.

## د کابل ښار پوهنې ریاست د ښوونکو طبقه بندي پیل کړه

د هیواد بچیانو د سالمې ښوونې او روزنې لپاره د تعلیمي نصاب د لاښه پلي کولو په موخه، د کابل ښار اړوندو ښوونځیو لپاره د ښوونکو طبقه بندي، د کابل ښار پوهنې رئیس قاري عبدالباسط «حقاني»، د یاد ریاست یو شمېر کلیدي آمرینو او د ښوونځیو د مدیرانو په حضور کې پیل شوه.
د غونډې په پیل کې، د کابل ښار پوهنې رئیس د ښوونځیو د مدیرانو له کړنو ستاینه وکړه او په روڼتیا او عدالت یې د ټینګار ترڅنګ زیاته کړه: پوهنه زموږ ګډ کور دی؛ نو راځئ چې د زده کړې د کچې لاښه والي او پرمختګ لپاره په ګډه کار وکړو، ترڅو هېواد د پرمختګ او سوکالۍ په لور سوق کړو.

## د هېواد د ۱۰ ولایتونو لپاره د پوهنې وزارت د اداري او تدریسي بستونو رقابتي آزموینه واخیستل شوه

د ځانګړي پلان له مخې، د آزموینو ملي اداري د پوهنې وزارت سره په همغږۍ او همکارۍ په بلخ، بدخشان، کندز، سمنګان، جوزجان، سرپل، فاریاب، بغلان، غور او دایکنډي ولایتونو کې د یاد وزارت د اداري او تدریسي پنځم او شپږمو بستونو لپاره رقابتي آزموینه په جلا جلا توګه واخیسته.
د پورته ذکر شویو آزموینو د پرانیستې په مراسمو کې د پوهنې رئیسانو، مسئولینو، د آزموینو ملي ادارې چارواکو او د اړوندو ولایتونو د نورو سیمه ییزو ادارو استازو ګډون درلود.
د آزموینو د پیل پر مهال، ویناوالو هر یو د تازه کارکوونکو او کادرونو د ګمارلو په پروسه کې د هغوی د زده کړې کچې، وړتیاوو او کاري تجربو په پام کې نیولو په تړاو خبرې وکړې او له مسئولینو یې وغوښتل چې د آزموینې بهیر د ښه تنظیم په موخه دې، عدالت او روڼتیا په بشپړه توګه پلي کړي.
په ورته وخت کې، د آزموینو د بشپړې څارنې لپاره، د آزموینو ملي اداري رئیس الحاج شیخ عبدالباقي «حقاني» هم د هېواد شمالي ولایتونو ته رسمي سفر وکړ.
د یادونې وړ ده چې د پوهنې وزارت د (۸۱۶۵) خالي اداري او تدریسي بستونو لپاره آزموینې، په څلورو پړاوونو کې له نوماندانو څخه اخیستل کېږي، چې په لومړي پړاو کې یې پورته ذکر شوي ولایتونه شامل وو.

## ارزیابی سویه مسلکی معلمین مراکز تعلیمی پشاور مربوط اتشه معارف خیبر پختونخوا

بـه هدف ارزیابی مهارت های معلمی و دانش مسلکی معلمان نهاد آموزشی حوزه تعلیمی پشاور پختونخواه، در حضور مسئولین از آنان امتحان ارزیابی آزمایشی اخذ شد.
به گفته آن ها هدف از اخذ امتحان آزمایشی، ارزیابی سویه مسلکی و مهارت های تدریسی استادان عنوان شده است.

## وقف ۱۲ بسوه زمین برای ساخت یک باب مکتب در ولایت لوگر

ریاست معارف ولایت لوگر در خبر نامه گفته است که خانواده مرحوم الحاج محمد ابراهیم جمشیدی یک تن از باشندگان ولسوالی خروار ولایت لوگر موازی دوازده بسوه زمین ملکیت شخصی شان را به هدف اعمار ابتدائیه قریه شش قلعه ولسوالی خروار آن ولایت به معارف اهداء نمودند.
الحاج عبدالرحمن حمیدی رئیس معارف ولایت یاد شده با بیان ارزش مالی زمین مذکور که حدود یک میلیون و ۲۷۰ هزار افغانی می شود، تصریح کرد: اهدای زمین و کمک به مراکز تعلیمی در زمره صدقات جاریه محاسبه می شود.
قابل ذکر است که این خانواده چندی پیش نیز غرض اعمار مکتب اناثیه در آن ولسوالی حدود یک جریب زمین خود را به معارف وقف نموده بودند.
رهبری وزارت معارف حمایت های مردم کشوراز معارف را در محراق توجه قرار داده و ازخانواده مرحوم الحاج محمد ابراهیم جمشیدی بابت مساعدت زمین های شخصی شان به معارف، قدردانی می نماید.

## د پوهنې وزارت د تدارکاتو رئیس د کندهار ولایت له پوهنې رئیس سره وکتل

د پوهنې وزارت د تدارکاتو د رئیس مولوي عبدالوکیل مدني په مشرۍ پلاوي کندهار ولایت ته د یو رسمي سفر په ترڅ کې د یاد ولایت له پوهنې رئیس الحاج مولوي فخرالدین نقشبندي سره وکتل.
په دې کتنه کې د پوهنې وزارت د تدارکاتو رئیس وویل، چې د خپل سفر څخه یې اساسي موخه، د دغه ریاست د کارونو، قراردادونو او د تدارکاتي مدیریتي پلانونو ارزونه ده.
د کندهار ولایت پوهنې رئیس د پوهنې وزارت د تدارکاتو رئیس ته د ښه راغلاست ترڅنګ، له یاد پلاوي سره د هر اړخیزو همکاریو ژمنه وکړه.

## هیئت ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف عازم ولایت ارزگان شد

هیئت ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف طی سفر های ولایتی شان به ولایات جنوبی کشور، عازم ولایت ارزگان شده و با الحاج مولوی شمس الله آخندزاده کامران و سایر مسئولین کلیدی ریاست معارف آن ولایت ملاقات نمود.
هیئت در دیدار با مسئولین معارف، ضمن تأکید بر تدریس نصاب دعوت و ارشاد، همراه با کارمندان و منسوبان در محوریت صورت و سیرت صحبت های مفصل کرد.
در نظر است تا هیئت مذکور در این سفر با کارمندان آمریت های معارف ولسوالی ها نیز دیدار نموده و هم از نزدیک کار و فعالیت مراکز تعلیمی خصوصی ولایت متذکره را مورد ارزیابی قرار دهد.

**کتنپلاوی:** الحاج مولوي شهاب الدين «ثاقب»
مولوي عزيز احمد «ريان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
معراج «زماني»
محمد نسيم «عياذ»
**مسئول مدير:** سعيد «جلال»
**انځور اخيستونکی:** محمد ادريس «نوري»
محمد اشرف «رسولي»

**ډيزاينر :** محمد قسيم «يعقوبي»
**تيراژ :** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت
**علاقه مندان معارف و نويسنده گان گرامى!**
شما مى توانيد انتقادات، پيشنهادات و نوشته هاى خود را جهت چاپ به ايميل آدرس ذيل ارسال نماييد.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړيکي شمېره:** ۰۷۲۸٤۰۷۲۷۲

# Marif
Weekly

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 294 /2025

# افتتاح ورکشاپ مسلکی برای مسئولین و اعضای انکشاف مسلکی در ولایات زون غرب کشور



ورکشاپ چهار روزه ارتقای ظرفیت برای روئسای معارف، ۲۱۲ تن آمرین و اعضای علمی انکشاف مسلکی معلمین زون غرب کشور که شامل ولایات: هرات, فراه، بادغیس و نیمروز می باشد با حضور الحاج مولوی صبغت الله وصیل معین منابع و ادارۀ وزارت معارف، مولوی محمد ابراهیم عمری رئیس تربیۀ معلم و انکشاف مسلکی معلمین وزارت معارف و رئیسان معارف ولایت های یاد شده در ولایت هرات گشایش یافت.

در مراسم افتتاحیۀ این ورکشاپ معین منابع و ادارۀ وزارت معارف، برگزاری سیمینارهای آموزشی و ارتقای ظرفیت برای مسئولان معارف را از اولویت‌های این وزارت عنوان نموده و از مسئولین و اشتراک کنندگان خواست تا مواد و آموخته‌های این ورکشاپ را در عرصۀ دسترسی به اهداف متوقعۀ ادارات خویش به کار ببرند.

## د پوهنې وزارت د تدارکاتو رئيس هلمند ولايت ته سفر وکړ

د پوهنې وزارت د تدارکاتو رئيس الحاج مولوي عبدالوکيل مدني په مشرۍ پلاوي هلمند ولايت ته د خپل رسمي سفر په ترځ کې، د ياد ولايت له پوهنې رئيس الحاج مولوي محمد عوض انصاري سره وکتل.

ياد پلاوي د خپل سفر موخه د ۱٤۰۳ لمريز کال د بودجې د لګښتونو ارزونه، د بيارغونې، مالي او تدارکاتي پروژو څارنه وبلله.
د هلمند پوهنې رئيس پلاوي ته د ښه راغلاست په ترځ کې د هر راز همکاريو ډاډ ورکړ.



## د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رياست د تېرې اونۍ دکړنو راپور

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رياست د رئيس الحاج مولوي جمعه خان سروري په لارښوونه، د ياد رياست رسمي پلاوي د هېواد ۱۱ ولايتونو ته د خپلو سفرونو په ترځ کې، تېره اونۍ د هرات، نيمروز او بادغيس ولايتونو له پوهنې رياستونو څخه ليدنه وکړه.

په ورته مهال تېره اونۍ مولوي ګلبدين صاحب د پوهنې وزارت د مرکزي هستې کارکوونکو ته د خپلې علمي وينا په ترځ کې، له ټولو کارکوونکو څخه په کلکه وغوښتل، تر څو له بې ځايه لګښت څخه ځانونه وساتئ او پر همدې اساس بايد په ټولو اداري ځانګو کې دبرېښنا له بې ځايه مصرف څخه ډډه وکړئ.

دغه راز نومورې د پوهنې منسوبينو ته وويل چې خپلو مسئوليتونو او دندو ته متوجې واوسئ او د مراجعينو کارونه پرته له ځنډ څخه په ټاکلي وخت سرته ورسوئ.

همدارنګه دعوت او ارشاد رياست ته له کابل ښار او د ولايتونو له پوهنې رياستونو څخه لاس ته راغلي راپورونه ښيي چې؛

په تېره اونۍ کې له ټاکل شوي مهالوېش سره سم د تعليمي مرکزونو اړوندو کارکوونکو ته د ديني درسونو لړۍ په نورمال ډول روانه وه، لکه د پخوا په څېر په مرکزي هسته کې د ياد رياست څخه امام مولوي ابراهيم او ملا حبيب الله "عزير" د يو شمېر رياستونو د کارکوونکو حال له نږدې وليده او هغوی ته يې لازمې توصيې وکړې.

همدا راز په تيره اونۍ کې د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئيس الحاج مولوي جمعه خان "سروري" د علماوو د شورا له رئيس شيخ الحديث والتفسير خليفه دين محمد سره په کتنه کې، د ياد رياست په اړه مهمې مشورې شريکې کړې.
د علماوو شورا رئيس او اړوندو علماء کرامو د دعوت او ارشاد رياست له خدمتونو او کړنو څخه خوښي څرګنده او د هغوی فعاليتونه يې وستايل.

## سفر رئيس نظارت و ارزيابی وزارت معارف به ولايت نيمروز

هیئت معینیت تضمین کیفیت وزارت معارف به رهبری مولوی غلام ربی ربانی رئیس نظارت و ارزیابی این وزارت به ولایت نیمروز سفر کرد.
در ابتداء موصوف با الحاج مولوی گل احمد حقانی رئیس معارف آن ولایت دیدار کرد.
در این دیدار هیئت یاد شده هدف سفر شان را تطبیق چگونگی و پیشرفت پلان های عملیاتی و سایر برنامه ها در آن ریاست عنوان نموده که در مقابل رئیس



معارف ضمن خیر مقدم به هیئت اعزامی اطمینان داد که ریاست معارف از هر جهت به خاطر تطبیق پلان های سفر با آنان همکاری می نماید.
متعاقباً رئیس نظارت و ارزیابی و هیئت همراه شان با آمرین برنامه ها و مدیران عمومی این ریاست نیز دیدار و گفتگو نموده نظریات و پیشنهادات آن ها را شنیده و در زمینه حل مشکلات ریاست معارف ولایت یاد شده به آن‌ها وعده همکاری سپرد.

## دیدار رئیس عمومی دفتر مقام وزارت معارف با رئیس و مسئولین ریاست معارف شهر کابل

الحاج مولوی شهاب الدین ثاقب رئیس عمومی دفتر مقام وزارت معارف در دیداری با قاری عبدالباسط حقانی رئیس و آمرین




برنامه های ریاست معارف شهر کابل؛ روی پلان های آموزشی سال نو تعلیمی و کیفیت هرچه بهتر نظام معارف در شهر کابل بحث و گفتگو نمود.
رئیس معارف شهر کابل ضمن سپاسگزاری از حضور رئیس عمومی دفتر مقام وزارت، در مورد فعالیت ها و پلان های آینده آن ریاست توضیح کامل داده و وعده هر گونه همکاری های لازم را جهت رشد و شکوفایی هرچه بیشتر معارف در سطح شهر کابل به رهبری وزارت سپرد.

## د شمال زون ولايتونو پوهنې رئيسانو او د ښوونکو دوړتيا لوړولو په موخه سيمينار پرانيستل شو

د پوهنې وزارت د نصاب او د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا لوی رئيس الحاج مولوي اول ګل «ايوبي» په مشرۍ يو پلاوی بلخ ولايت ته رسمي سفر وکړ او د بلخ، فارياب، سمنګان، جوزجان او سرپل ولايتونو پوهنې مسئولينو او د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا ۴۱۵ تنو علمي غړو لپاره يې د وړتيا لوړولو ۴ ورځنی سيمينار پيل کړ.

د بلخ ولايت پوهنې رئيس مفتي محمد شريف «عثماني» د سيمينار د پرانيستې په مراسمو کې ګډون والو ته د هرکلي ترڅنګ، د پوهنې وزارت د پلاوي له هڅو ستاينه وکړه او د ياد وزارت د وړوتيا لوړولو پروګرامونه يې د ښوونيز نظام د کيفيت لوړولو په برخه کې مهم او ارزښتناک وبلل.

د پوهنې وزارت د نصاب او د ښوونکو مسلکي پراختيا لوی رئيس دياد ۴ ورځني سيمينار د آجنډا د تشريح په ترځ کې وويل، چې د دغه روزنيز سيمينار د جوړولو څخه اساسي موخه، په يادو ولايتونو کې د ښوونکو د مسلکي پراختيا د غړو د روزنيزو مهارتونو لوړول او د هېواد د تعليمي سيستم وده ده.

## د ميدان وردګ اوسېدونکو تېره مياشت له معارف سره ۳،۵ مېليونه افغانۍ مرستې کړې

د روان لمريز کال په مرغومي مياشت کې د ميدان وردګ ولايت د دايميرداد، نرخ، جلريز او بهسودو ولسواليو عامو خلکو له ۳۱ بابه ښوونځيو سره څه د پاسه ۳،۵ مېليونه افغانۍ مالي مرستې کړې دي، چې د ښوونځيو د لومړنيو اړتياوو پوره کولو په برخه کې مصرف شوي دي.
د يادونې وړ ده، چې د روان کال له پيل څخه تر اوسه پورې په دغه ولايت کې له پوهنيز نظام سره څه د باندې ٢٤،٥ مېليونه افغانۍ مالي مرستې شوې ده.
د پوهنې وزارت رهبري د خلکو، په ځانګړې توګه د ميدان وردګ ولايت د معارف دوستو اوسېدونکو له مادي او معنوي مرستو څخه خوښي څرګنده او په دې برخه کې يې د دوی له ملاتړه مننه وکړه.

**زده کوونکي د هېواد د روښانه راتلونکي او بيارغونې ملي سرمايه ده، راځئ د دې سرمايې په ساتلو او پاللو کې خپل ديني او ملي مسئوليت ادا کړو**